# مجنون

# او

# ګلچین

لیکوال :

داکتر معمار حشمت الله اتمر

غویی میاشت / کال ۱۴۰۲

بسم الله الرحمن الرحيم

**لیکي پوهه:**

**سرلیک:** مجنون او گلچین
**لیکوال:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**ایډیټور:** ډیپلوم انجینر صفی الله ,, فردوس ،،
**طراح او ډیزان:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:** د لاجواب مطبعه، د ولایت کابل واټ، کابل
**چاپشمېر:** ۱۰۰ ټوکه
**چاپ نېټه:** غویی میاشت / کال ۱۴۰۲
**گرځنده اړیکه:** +۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸
**برېښنالیک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي،
بې اخځ ښوونې ترې د کټي اخیستنې اجازه نه شته.

# لړلیک

سرلیک | مخ شمېر


| سرلیک | مخ شمېر |
| --- | --- |
| پخبنتی ........................................ | ۱ |
| بسم الله ........................................ | ۲ |
| لیکي پوهه ........................................ | ۳ |
| لړلیک ........................................ | ۴ |
| سریزه ........................................ | ۵ |
| د یادښتونو له پاره ........................................ | ۷ |
| داستان ........................................ | ۸ |
| د چاپ شویو کتابونو لېست ........................................ | ۵۸ |
| د کار لاندې کتابونو لېست ........................................ | ۶۰ |
| د امکان او وخت په صورت کې ........................................ | ۶۱ |
| د پخبنتی څنډ ........................................ | ۶۲ |

# سریزه

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات يې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او د عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. د هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او د کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی. عظمت، او د تووو نړیوه موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل د حق د رسیدو د جوهر په یوهوالي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل چې یوه حقیقي داستان (ناوو) و لیکم ځکه زما د کتابونومېنه وال یوازې انجینران نه دي او نه باید اوسي، نو ځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راووم چې د هرې ځانګې مېنه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړي چې لیکنې مې توپیر و لري او هم مینه وال به مې ډېر شي.

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وينو او نه يې وپېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دين له سپيڅلو بنده ګانو څخه مو و بووې.

**يادونه:**

د تووو نظر خاوندانو او هغه چا نه چې دا کتاب لووي په ډېر درنښت هېله کيږي چې خپل غوښتنې او وړانديزونه د دې کتاب د بيا کتنې له پاره زما سره شريک کړئ.

Wats app: ۰۷۹۹۳۷٦۹۹۸

په درنښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

## د یادښتونو له پاره:

۱- ........................................................................................................

۲- ........................................................................................................

۳- ........................................................................................................

۴- ........................................................................................................

۵- ........................................................................................................

۶- ........................................................................................................

۷- ........................................................................................................

۸- ........................................................................................................

۹- ........................................................................................................

۱۰- ......................................................................................................

*

مجنون او ګلچین دوې ورونه وو، د تګاب د ولسوالۍ چې په کوشنیوالي کې یې خپل پلار له لاسه ور کړی و.
مجنون یې مشر او د نهه کالو او ګلچین یې کشر د اووه کالو عمر یې درلود.
دوی په یوې منځنۍ کورنۍ کې زیږېدلي وو او د پلار څخه ور ته یوه اندازه ځمکه او د انارو ونو باغ هم په میراث پاتې وو.
د دوی سرپرستي، مور یې چې خورا ډېره مهربانه وه کوله.
بیا ماما ګان یې د دوی نه ساتنه کوله او پر دوی یې دهقاني او نور درانه کارنونه پیل کړل.
مجنون چې مشر و، داسې ښکارېده چې یوه څه لیک او لوست یې هم یاد درلود، مګر په رسامۍ کې یې خورا مهارت او مینه لرله.
د ماما ګانو فشار ورځ پر ورځ پر دوی ډېریده او دوی یې اړ ایستل چې ډېرکار و کړي، مګر دوی د ماما ګانو سره یې کرکه پیدا او مخ په زیاتېدو شوه، ماما ګان یې پر دوی کار ډېر وو او همدا راز وهل او ټکول یې هم را پیل کړل.
عقده او کینه ورځ په ورځ مخ په ډېرېدو شوه او مور یې هم دوی ته چندان علاقه او مینه نه ښودله او د دوی نه به یې د ماما ګانو په پرتله دفاع هم لږېده.
یوه ورځ مشر ورور مجنون له ګلچین سره مشوره و کړه چې پلارنۍ مېنه به پرېږدي او بل وطن ته به لاړ شي تر څو د ماماګانو له عذاب څخه خلاص شي.
دوی په دې اړه له مور سره هم مشوره و نه کړه ، یوازې د خپل منځ کې یې پرېکړه و کړه چې سهار و ختي به له کوره و وځي.
د شپې یې خپل منځو کې پرېکړې کولې او بېرته به یې له منځه وړلې او ښه نه پوهېدل چې په کومه لور لاړ او وروسته به څه و کړي؟

شپه په ختمېدو وه، چرګانو د سهار آذانونه پیل کړل، په دې وخت کې ګلچین درانه او د ماشومتوب خوب وړی و، مجنون هغه یې و خوځو او ویښ یې کړه.
ورو یې په غوږ کې ورته وویل:
هله! را پاسه چې روان شو چې ماما ګان مو خبر نه شي، که نه نو پر مونږ به سختي، وهل او ټکول نور هم ډېر کړي.
ګلچین په بیړه له خوبه را پاځېد او دواړه ورو، ورو د انګړ دروازې ته نږدې شوو؛
په ډېر احتیاط سره یې دروازه خلاصه تر څو، څوک پرې خبر نه شي .
مجنون ګلچین ته اشاره و کړه چې ورو د انګړ ور پورې کړه، ګلچین هم ورو د انګړور پورې کړه.
دواړه د یوه نا څرګنده لور په خوا روان شو.
دوی نه پوهېدل چې کومه خوا ځي، دومره پوهېدل چې ورځ د ختیځ خوانه رڼا کیږي او لمر هم له ختیځ نه راخیږي.
دواړه د ختیځ په لور روان شو.
دوی له ځانه سره ډوډۍ او یوه غوټه پیاز هم اخیستی وو.
په لاره روان وو چې یوه کس یې پر مخه ورغی او له هغه نه یې پوښتنه و کړه:
دا کوم ځای دئ؟
هغه کس وویل:
باد پښ دی
بیا یې و پوښتل:
دا د تګاب منطقه ده؟
هغه وویل:
نه!
دا د لغمان ولایت یوه برخه ده،
هغه کس و پوښتل:

لاره مو ورکه کړې ده؟
دوی وویل:
نه!
فقط د مشرانو نه بېر ته پاتې یو؛
کې دی شي مونږ په سې بېر ته راشي
بیا مجنون و پوښتل:
تر کلیو پورې لاره ډېره ده؟
هغه وویل:
هو!
که تاسو داسې مزل و کړئ کې دی شي شپه هم په تاسو راشي.
دوی له هغه سړي نه خدای پاماني وا خیسته او په دښته کې روان شو، دوی پخوا چندان مزلونه نه و کړي او ګامونه یې هم د ماشومتوب وو.
دوی ډېر ستومانه شوي وو،
ګرمي زیاته نه وه او د پسرلي ورځې وې،
دوی ډېر وږي او تږي شوي هم وو،
ګلچین مجنون ته وویل:
زه ډېر ستړی شوی یم،
راځه چې چېرته سوری پیدا او ترې لاندې دمه و نېسو،
مجنون و ویل:
راځه یوه څه مزل و کړو،
کې دی شي کومه ونه او یا هم چینه پیدا شي،
هلته به هم دمه و نیسو او هم به لږ اوبه و څښو.
ګلچین وویل:
سمه ده وروره!
دوی بیا مزل پیل کړه، له کړي مزل وروسته یې سترګې په یوې زرغونې ونې ولګې دې او په هغه لوري ور روان شول.
هلته چې ورسیدل هغه د غز ونه وه،

شا او خوا يې کومه چينه او يا د اوبو نخښه نه ليدل کې ده،
دواړو په شګه کې ونې ته اړخ و واهه او تر سورې لاندې د دمه نيولو نيت و کړه.
مجنون له دستماله ډوډۍ را و ويستله او ګلچين ته يې ور کړه، او وې ويل:
و نيسه وروره دا ډوډۍ،
زه به دا دستمال و غوړوم.
ګلچين ډوډۍ و نيوله او مجنون دستمال و غوړاو،
بيا ګلچين ته يې وويل:
ډوډۍ پر دستمال کېږده،
وروسته مجنون له جيبه د پياز غوټه را و وېسته او په دستمال يې کېښوده،
پر سوک يې پرې ګذار و کړه
پياز ځو ټوټې شو
بيا يې وويل:
شروع کړه چې دواړه وږې او تږې يو،
دوی په ډېر خوند ډوډۍ له پيازه سره و خوړه
هوا توده او پر دوی خولې هم جاري شوې،
دوی ډېر تږي وو،
مګر کومه چاره يې هم نه درلوده، ځکه له ځانه سره يې کوم د اوبو لوښی هم نه درلود.
يوازې يوه لاره يې درلوده، چې هغه هم صبر و.
پس له دمې دوی بيا روان شو،
کوم سړک او لويه لاره هم نه وه،
يوازې د اوښانو او کاروانو لاره يې خارله
مازديګر نږ دې شو،
مګر دوی کومې سمې ته نه وو رسيدلي،
هوا مخ په تيارېدو شوه،

ماښام نږدې شو
ګلچين چې کوشنی و وېرېده،
مګر مجنون چې لوی وو هغه ته به يې ډاډ ور کاوه چې مزل
لنډيږي او دوی به ژر کوم کلي ته ورسيږي.
دوی روان وو او څوک يې په مخه هم نه راته، چې د کوم جومات
او يا د کوم کلي پوښتنه ورنه و کړي.
روان وو او تياره هم په ډېرېدو شوه
په دوی کې وېره هم مخ په زياتېدو شوه
کوشنيوال؛
تياره؛
دښته؛
په هره توګه روان وو او
ماښام شو.
ورو، ورو سپوږمی را وخته
هوا يوه څه روښانه شوه
لاره ښه ليدل کې ده.
دوی په مزل لګيا وو
مخ کې تلل او کله به يې وروسته هم کتل چې ماما ګان يې دوی
څاري او که نه؟
او يا هم څناور ور په سې را نه شي.
دوی يوه څه وړاندی لاړل
مجنون يوه ډانګ وليد چې پر لار پروت دی،
هغه يې را پورته کړه او وې ويل:
دا به زموږ په کار شي،
که چېرې کوم سپی او يا ليوه را شي،
له ځانه به دفاع و کړو
ګلچين خورا و وېرېد
ځان يې په لړزه شو

مګر مجنون ډېر قوي ښکارېده او ګلچین ته يې وویل:
مه ډارېږه، خدای مهربانه دی،
مونږ دوې کسان یو،
مجنون په لاره کې پښتو لندی هم شروع کړې، کومې يې چې په ماشومتوب کې یادې کړې او دشپې له خوا به يې دباغ په آبداری کې د نورو همزلو سره ویلې.
ګلچین چې خورا ستړی شوی و، یوه ناڅاپه پښه يې په یوې ډبره و ښښته او را ولید،
مجنون ورمنډه کړه او هغه يې راپورته کړه،
او ورته يې وویل:
ته ښه يې وروره؟
هغه وویل:
هو!؟
زه ښه یم،
بیا روان شوو
وخت ماسختن شوی وو
مګر د کوم کلي څرک نه لګیده
دوی خپلې موخې ته روان وو
شپه پخه شوې وه
ناڅاپه د مجنون سترګې په لوګي و لګېدې
هغه فکر و کړه چې توره نری ورېځ په آسمان کې ده،
بیا يې له ځانه سره وویل:
کې دی شي کوم کلی وي،
کلي خوا ته ته نږدې کېدل
مګرنه پوهېدل چې کوم کلي دی؟
کلی د شګوغوندې شاته پټ و، او هوا هم یوه څه تیاره وه،
د سپیانو آواز يې تر غوږو شو،
خوشحاله شوو چې کوم کلي ته نږ دې شوي دي.

بیا یې لارې ته دوام ور کړ،
د لرې نه د آذان غږ تر غوږو شو
ګلچین ډېر خوشحاله شو او وې ویل:
مجنونه وروره!
انشا الله!
جومات ته نږ دې شوي یو،
ګلچین پوښتنه و کړه:
دا د ماسختن آذان دی؟
مجنون وویل:
لږ صبر و کړه چې آذان خلاص شي بیا به درته ووایم،
آذان خلاص شو،
مجنون، ګلچین ته وویل:
وروره!
دا د سهار آذان وو!
ګلچین بیا وویل:
و ګوره د هغه کلي نه لوګي خیږي،
کې دی شي د تناره لوګی وي
لکه چې د سهار له پاره څوک ډوډی پخوي؟
ګلچین چې ډېر وږی و وې ویل:
ګوندې لږه ډوډی مونږ ته هم را کړي،
زه ډېر وږی شوی یم.
دوی کلي ته ور نږدې شو
سهارد لمونځ جمع نوې خلاصه شوی وه
هر څوک د خپلو کورونو پر لور روان وو
دوی جومات ته نږدې شوو
یوه سړي چې سپین ږیری و، په ښې لاس کې یې امصا نېولې وه
او ورو، ورو مخ په کور روان وو.
نا څاپه یې سترګې په دوی و لګېدې،

ځای پر ځای و درېده
انتظار یې و یوېست تر څو هغوی ور نږدې شي
مجنون او ګلچین ور نږدې شول
اول یې سلام ور وا چاوه
سپینږیري سړي سلام ته یې ځواب ور کړه
بیا سپینږیري سړي ورنه و پوښتل:
د کوم کلي نه راغلې یاست؟
چېرته روان یاست؟
مجنون وویل:
مونږ خپل کور د کار موندلو په نیت پرېښود او غواړو چېرته سمې ته لاړ شو، کار او مزدوري و کړو.
سپینږیري ورته وویل:
تاسو به ډوډۍ هم نه وي خوړلې؟
ګلچین وویل:
هو!
ډېر وږي او تږي هم یو.
سپینږیري ورته و ویل:
دلته د جومات صوفه ده،
تاسو پر پوزي کېښنۍ!!
زه کور ته ځم او تاسو ته به چای را وړم.
سپینږیری مخ په کور روان شو،
دوی پر پوزي کېښناستل او خورا خوشحاله شو،
لمر په راختو شو او هوا روښانه شوه،
سپینږیری سړی وروسته له څه ځنده راستون شو،
هغه سره یوه لمسی او یوه لمسی مل وو.
د لمسی په لاس کې زوړ او تور چای جوش او د لمسی په لاس یې دستر خوان وو.
هغوی مجنون او ګلچین ته ور نږدې شو او ورته یې وویل:

را ځئ بچیانو!
څه چې تیار- هغه د یار دي
د جومات سره څو ختیني کوزې هم وې چې له اوبو نه ډکې وې
او خلکو د اړتیا په وخت کې د آوداسه له پاره ترې کار اخیسته.
سپینږیری وویل:
اله!؛
الکانو!!؛
لومړی هغه د ختو کوزه چې له اوبو نه ډکه ده را واخلئ او خپل
مخونه او لاسونه پرې ومینځئ! او بیا چای پیل کړئ.
ګلچین او مجنون همداسې و کړه، لومړی یې خپل مخونه او لاسونه
چې په خاورو سپیره وو پریمینځل او وروسته دسترخوان ته
کیښناستل،
په مزه، مزه یې د جوارو ډوډی له ګوړې او شین چای سره خوړل
او خورا خوشحاله شو.
د چای د ختمیدو نه وروسته سپینږیري سړي پر مجنون او ګلچین
غږ و کړ او وې ویل:
ښه نو خپله کیسه را ته و وایئ!
کې دی شي زه له تاسو سره مرسته و کړم.
هغوی له اصلي داستان نه انکار و کړ او ویې ویل:
د کار له پاره وتلې یو او غواړو چیرته دهقاني او مزدوري و
کړو.
سپینږیری خورا مهربانه سړی و، په سوچ کې شو او له ځانه سره
یې وویل:
دلته خو د دوی له پاره کوم کار نه شته،
زمونږ ځمکه هم لږه ده او خپله ګذاره مو پرې هم نه کیږي.
نو تصمیم یې و نیوه چې دوی ته د قرغیو ولسوالی لار وښایي
چې هلته ځمکې ډیرې او خلک یې تر نورو ځایونو لږ څه شتمن
دي.

بیا یې مخ مجنون او ګلچین ته واړو او وې ویل:
الکانو!؛
ما ډېر سوچ و کړه،
دلته مې تاسو له پاره کوم کار ونه موند،
نو ځکه مې پرېکړه و کړه چې تاسو ته یوه ښه د کار او بار لار
در وپیژنم.
هغه دا ده:
پس له یوه ګړی مزل نه مو مخ ته، یوه سیند راځي چې د کابل په
سیند یادیږي، د هغه سیند په غاړه مخ په لمر ختو لاړ شئ، بیا به
مخ ته مو شنه فصلونه او ځمکې راشي، تاسوهلته د کار له پاره
پوښتنه و کړئ،
الله مهربانه دی!
حتمي ده، تاسو له پاره به کار او مزدوري پیدا شي.
سپینږیري سړي مجنون ته یوه د ختو کوزه هم ورکړه او ورته
یې وویل:
دا کوزه واخله که چیرې په لاره کې تږي کیږئ نو د دې نه به د
اوبو ښنلو له پاره ګټه واخلئ او کوم وخت یې چې اوبه خلاصیږي
نو کولای شئ د سیند د اوبو نه یې بېرته ډکه کړئ.
دواړه ورونه ډېر خوشحاله او د سپین ږیري سړي نه یې مننه و
کړه او خدای پاماني یې واخیسته او تر څو چې سپینږیري سړي
ته غږ رسیده، ویل یې:
کور ودان!
خیر وې سې!
په عمر دې برکت!
خدای په امان!
سپینږیری سړی ولاړ و،
مجنون او ګلچین مزل کوو
بیا به یې بېرته (وروسته) کتل،

چې سپین ږیری و لاړ دی او دوی ته ګوري،
تر څو چې دوی له یوې شګلنې غونډۍ تېر شو او سپینږیری ورنه پنا شو.
دوی په لاره روان وو او نا څاپه د ګلچین سترګې په یوه لوی شي و لږېدې او مجنون ته یې وویل:
وګوره!!؟
وګوره!!!؟
دا څومره غټ اوښ دی،
څومره ډېر وابنه یې پرې بار کړي دي،
مجنون هم دا راز غټ اوښ تر اوسه نه و لیدلی،
مجنون هک پک شو،
هغه نه پوهید چې ګلچین ته څه و وایي، بیا یې وویل:
وروره!؟
د دې منطقې خلک لکه زموږ د ماما ګانو په شان ظالمان دي، دومره ډېر بار په اوښانو ږدي چې اوښان ترې لاندې هېڅ نه ښکارېږی. (۱)
بیا دوی خپل مزل شروع کړه،
د سیند په غاړه روان وو، هوا مخ په تودېدو او غرمه هم رانږدې شوه، دوی د زیراني د منطقې نه تېر شول او مخ په قرغیو ولسوالی د کابل د سیند په غاړه روان وو.
پس له یوه څه مزل نه شنې ځمکې را ورسیدلې او دوی دواړه په پولو مخ په لمر خاته روان وو.
لږ وروسته یې په ځمکو کې یوه بزګر ولید چې د اوبو په لګولو بوخت دی.هغوی بزګر ته ورنږدې شول، لومړی سلام یې ور واچاوه دهقان د هغوی سلام ته ځواب ورکړه، مجنون بزګر ته ورنږدې شو او وې پوښتل:
وروره!
موږ مزدوري په سې راغلي یو

دلته به مزدوري تر لاسه شي؟
هغه وویل:
نه!
دلته مزدوري او ځمکې لږې دي
تاسو وړاندې لاړ شئ،
هلته ځمکې لرونکي خورا ډېر دي.
هغوی ډېری (اکثراً) په کابل کې ژوند کوي او دولتي دندې هم لري
هغوی ته خانان او مېرزایان وایي،
هغوی خپلې ځمکې په مزدورانو کري او کله نا کله هم دلته او هم
په کابل کې د کارنو د مخته وړلو له پاره مزدوران ساتي.
نو تاسو مخته لاړ شئ!؛
الله مهربانه دی!
دوی بیا خوشحاله شو او مجنون ګلچین ته وویل:
له خیره سره کار او مزدوري ته نږدې شو.
دوی وړاندې تلل او له هر چانه به یې پوښتنه کوله!
د مېرزایانو کلي کوم دی؟
خلکوبه ویل:
مخته لاړ شئ؛
پای کې دوی د مېرزایانو کلي ته ورسیدل،
دا وخت غرمه وه؛
دواړه د یوه جومات تر څنګ د دیوال سوري ته کېښناستل.
په دې وخت کې د یوه بزګر پر دوی پام او ور نږدې شو،
او وې پوښتل:
د کوم کلي یاست؟
دلته څه کوئ؟
مجنون وویل:
مونږ مسافر یو، د کار او غریبی له پاره راغلي یو.
بزګر وویل:

دلته دېرې ته راشئ!، زه به خپل خان ته و وايم.
هغه په منډه کلا ته دننه شو او خپل خان ته يې د دوې تنکيو ځوانانو په هکله وويل چې دوی د کار له پاره راغلي دي.
خان د کلا نه باندې شو او د الکانو خوا ته ورغی،
الکانو خان ته سلام ورکړه،
خان هم سلام ته ځواب و وايه،
بيا خان و پوښتل:
ډوډی به مو هم نه وي خوړلې؟
هغوی وويل:
هو!
بيا خان خپل دهقان ته وويل:
منډه!
دوی ته د کور نه د غرمې ډوډی را وړه!
دهقان کلا ته دننه شو او لږ څه وروسته يې د غرمې ډوډی دوی ته راوړه.
دسترخوان يې هوار کړه؛
د کورتو، اوګرې غوری، د شنې تازه شفتلې سابو قاب او د تناره توده ډوډی يې پر دستر خوان کېښښوده.
خان غږ کړ:
هغه خواته مو د اوبو وياله ده
مخ او لاس تازه او بيا ډوډی پيل کړئ.
خبرې به پس له ډوډی و کړو.
دوی په خوند ډوډی پيل کړه،
د خوړو په حال کې به يې يوه بل ته هم کتل،
خان لږ لرې په کټ ناست و او سوچ يې کوه چې له دوی نه ، څرنګه او چېرته ښه کټه واخلي.
خان بيا پر دهقان غږ و کړ:
کلا ته لاړ او دوی ته شين چای له وطنی ګوړې سره راوړه؛

دهقان کلا ته لاړ او د لږ ځنډ وروسته یې چای له ګوړې سره راوړه، دوی ته یې په شنوپیالو کې وا چاوه.
دوی چای په مزه و څښنه؛
بیا وروسته خان ورته وویل:
زه یوه تکړه کس ته اړتیا لرم چې له ما سره ملتیا و کړي
مجنون و پوښتل:
څنګه کس ته؟
خان وویل:
داسې کس ته چې ونې و وهې او لرګي مات کړي همدا راز ژرندې او د کور په کارنو کې زما سره مرسته و کړي.
بیا ګلچین و پوښتل:
خان صیب!
موږ په ګډه دا کار کو.
خان وویل:
نه!
زه یوه کس ته اړتیا لرم.
د ستاسو نه یوازې یوه کس کولی شي له ما سره پاتې شي.
مجنون و پوښتل:
بل به څه کوي؟
خان وویل:
بل به هم داسې کار په بل کلي کې و کړي.
مجنون وویل:
سمه ده خان صیب!
ګلچین به ستاسو په کلي کې پاتې شي
او زه به په بل کلي کې کار و موندم.
خان و منله،
ګلچین په کوز کلي کې په کار و ګمارل شو.
خان خپل دهقان ته غږ کړه،

غفاره!
هغه وویل:
بلې صیبه!
ته مجنون د بر کلي خان کور ته بوزه او زما نوم ورته واخله چې
هغه په کار و ګماري.
غفار مجنون ته غږ وکړه:
راځه چې ځو!
مجنون له غفار سره بر کلي ته لاړ؛
ګلچین چې د چای د اخري پیاله په ښنبلو بوخت و، وې ویل:
خان صیب؛
ډوډی خو به درې وخته وي؟
خان وویل:
هو!
درې وخته ډوډی به درته در کوم او همدا راز په کال کې دوې
جوړې جامې به درته هم جوړوم.
یوه جوړه په کوشني اختر کې او بله جوړه په لوی اختر کې.
بیا ګلچین وویل:
خان صیب!
زه خو یوه جوړه جامې لرم چې په ځان کې مې دي.
خان وویل:
اندېښنه مه کوه!
زه خپلې زړې جامې در کوم چې ور نه کار وا خلې.
بیا خان په خپل بل بزګر غږ و کړه:
ستاره! دلته راشه!؛
هغه وویل:
بلې خان صیب!
خان وویل:
د کلا دننه د لویې دروازې هغه کوشنی کوټه ګلچین ته ور و ښایه.

هغه به پس له دې الته ژوند و کړي.
همدا راز د کلي اصلو او رواج ورته هم زده کړه.
ستار وویل:
سمه ده، صیبه!
ستار ګلچین ته وویل:
راځه راسره
ستار د مخه او ګلچین ورپه سې شو
دوی د کلا لویې دروازې ته ورسیدل
ستار ده ته د دروازې تړل او خلاصول ور زده کړل او وې ویل:
ورسته د نن څخه، دا به ستا کار وي.
بیا کلا ته دننه شول،
د کلا په ښې لاس کې یوه کوشنۍ کوټه وه، چې یوه موری د رڼا له پاره یې لرله، هم یې یوه د لرګیوه ور درلوده، چې له دواړو خواوو نه د ځنځیر په توګه د تړلو وړتیا هم درلوده.
اول ستار کوټې ته دننه شو.
بیا ګلچین ته یې غږ وکړ:
راځه!
دا پس له دې ستا کوټه ده.
ګلچین مسکې شو،
هغه هم کوټې ته دننه شو،
په کوټه کې یوه نیمڅی و؛
بله خوا ته یوه زوړ د لرګین کټ و، چې پرې یوه د مالوچو نالی (توشکه)، کوشنی بالښت او یوه بړستن پرته وه.
په بل کنج کې یوه زوړ چای جوش، یوه د اوبو څښلو جام، د ختو منګی د اوبو څښلو له پاره، یوه د ختو کوزه د اودسه له پاره، یوه کوشنی مسي غوری (مجمه)، یوه کاسه او یوه ګیلاس وو.
ستار وویل:
دا ده ګلچینه!

دا هم ستا لوښي!
سبا به خپل لوښي د ویالې په غاړه و وینځي او بیا به خپل کټ او بستره لمر ته و باسي.
نالی (توشکې)، برستنی، بالښت ته به دې ښه لمر ور کړې، بیا تا د کلي اوسیدونکو سره و پیژنم؛ لکه:
دم، مثلی (هغه چا ته ویل کېدل چې درمندونه به یې بادول او پاکول)، کرونده گر (دهقانان)، کسبگر او نورو اوسیدونکو سره.
ستار ورته وویل:
په کلي کې سپیان هم شته
زه به دې ورسره بلد کړم.
بیا ستار ورته و ویل:
راځه چې باندې ځو تا ته به زموږ د کلي جومات، د اودسه ځای ، دېره، شا او خوا د خان صیب ونې او ځمکې در وښیم.
گلچین وویل:
سمه ده!
دوی د کلا و وتل،
د ماښام د لمونځ آذان شو
گلچین اودس وکړه
بیا لمونځ یې په جمع سره ادا کړه
وروسته خان، گلچین د کلي ملا او نورو ته ور وپیژاند،
بیا خان گلچین ته وویل:
د شپې ډوډی به د ملا صیب سره و خورې او پس له ماسختن لمونځ نه به د کلا دروازې ته راځې د خپلې کوټې په مخ کې به و درېږې چې د کلي ټول کسان دننه شو، بیا به د کلا دروازه تړې، او په خپله کوټه کې به ویده کیږې.
همدا راز سهار و ختې کوم وخت چې د کلي ملا آذان و کړ، ته به دروازه خلاصوې چې خلک مانځه ته لاړ شي.

چا ته به د شپې له خوا دروازه نه خلاصوې!!؟؛ که چېرې اړتیا شوه، بیا به له غفاره! او یا ستاره! مرسته اخلې.
ګلچین وویل:
سمه ده!
بیا ګلچین و پوښتل:
د کلي ملا صیب چېرته اوسیږي؟
خان ځواب ورکړ:
هغه د جومات په حجره کې ژوند کوي.
د سهار چاى به هم له هغه سره وڅښې.
ګلچین وویل:
سمه ده.
خان وویل:
بیا وروسته له ننه؛ درې وخته ډوډی به دې خپلې کوټې کې خورې.
ګلچین وویل:
سمه ده!
ګلچین ډېر خواري کښ تن و او هم یې له خلکو سره ښه ناسته پاسته در لود.
هغه له کار سره لېوالتیا (مینه) لرله او په ډېرو کارنو، ډېر ژرپوی شو.
وختونه تېر شو او هغه هم ځوان شو.
یوه ورځ ګلچین په ډېره کې ناست و چې د ولسوالی نه دوی شپه میري (پولیس) راغلل.
هغوی د ګلچین نه پوښتنه و کړه:
ته ګلچین پیژنې؟
ګلچین وویل:
هو!
زه په خپله ګلچین یم.
یوه شپه میري (پولیس) ورته وویل:

ستا پچه ختلي ده او باید عسکري ته لاړ شي!؟.
هغه ورته وویل:
تاسو کېښنئ چي څه خپل خان ته خبر ور کړم.
شپه میري (پولیس) په دېره کي کېښناستل،
ګلچین کلا ته لاړ او خان ته یې غږ کړ.
خان له کلا د باندې را و وته او دېرې خوا ته روان شو.
شپه میري له ځایه را پاسیدل او خان ته یې احترم و کړه؛
خان شپه میرو ته وویل:
کې دی شي دا معاف کړئ؟
څکه هغه اوس دلته مسافر دی!
شپه میرو وویل:
نه!
امکان نه لري.
دا د دولت پریکړه ده.
باید دوې کاله عسکري و کړي.
د دوې ورونو نه باید یوه تن حتمي عسکري و کړي او یا د ده په ځای کوم بل څوک عسکري و کړي، دا هم دولت ته د منلو وړ ده.
خان د شپه میرو نه دوې ورځې وخت واخیست.
شپه میرو ومنله او خان ته یې وویل:
سمه ده!
مونږ دوې ورځي وروسته راځو او ګلچین له ځانه سره ولسوالی ته بیا یو، مګر دا باید له ځانه سره یوه خپله بستره هم و لري.
خان و منله!
دوې ورځې ورسته هماغه دوې د ولسوالی شپه میري راغلل او دېرې ته لاړل.
ګلچین هغوی ته چای راوړه.
هغوی چای و څښه او ګلچین ته یې مخ ور واړو او ویې ویل:

اله!! بستره دې را واخله چې ځو.
ګلچین خپلې کوټې ته دننه شو او خپله بستره يې شاته وتړله، د کلي خان او نورو مشرانو سره يې خدای پاماني و کړه.
خان ګلچين ته وويل:
کوم وخت چې عسکري دې سره ته ورسوله ،بېرته دلته راشه،
ګلچين ډېر خوشحاله شو او ويې ويل:
سمه ده!
ګلچين د شپه ميرو سره مخ په ولسوالی روان شو.
د کلي مشران په لار کې ولاړ وو او د هغه ننداره يې کوله.
د کلي ماشومان هم په دوی پسې يوه اندازه منډې و وهلې.
ګلچين روان و، مګر ځو وارې يې شا ته هم و کتل تر څو له کلي نه پناه شو.
دوې کاله ډېر ژر تېر شو او ګلچين بېر ته کلي ته ستون شو.
ماشومانو ګلچين له لرې وليد او نارې يې کړې،
هله ګلچين بېرته راغی!
هغه له عسکري نه خلاص شوی دی.
په دې وخت کې زه هم چې کوشنی او په کلي کې وم، و مې ليد يوه کس چې بستره يې په شا ده او د کلي خوا ته روان دی.
هر چا به ورته ستړي مه شي ويل:
ماشومانو د هغه لاسونه مچو کول او ګلچين هم به د ماشومانو سرونه.
خان د ګلچين په ليدو سره ډېر خوشحاله شو
او د ګلچين سره يې روغبړ و کړه.
خان ستار ته وويل:
اله!
لومړی د ګلچين بستره ترې واخله او د هغه کوټې ته يې وې سه،
بيا يې ګلچين ته وويل:
راځه چې ديرې ته لاړ شو،

خورا ښه لمر دی؛ هم به پیتاوی و کړو او هم به غوري و کړو.
هغوی دېرې ته لاړل او د کلي نور اوزګار کسان هم هلته راټول شول، خان چای را وغوښت او پر پیالویي ویشل شروع کړه.
هر چا به له ګلچین نه د عسکري په هکله پوښتل او هغه به ځواب ورکوه.

**

د خان ورور په کابل کې دولتی دنده درلوده او همدا راز هلته اوسیده، هغه به په ژمي کې د شل ورځو له پاره له کاره رخصت اخیسته او وطن ته به ته، البته به یې وخت تېرو او د اېلیو ښکار به یې هم کوه.
هغه د ګلچین په هکله پوهیده چې یوه تکړه کاریګر او با وفا ځوان دی.
یوه ورځ د خان ورور ګلچین ته وویل:
الکه له ما سره کابل ته ځې؟
هغه وویل:
هو!
خو اجازه به مې له خان صیب نه اخلې!
هغه په خندا شو او ویې ویل:
سمه ده!
خان د ورور رخصتی پای ته ورسیده او اړ و چې کابل ته لاړ شي.
یوه ورځ مخکې له تګ نه یې خپل ورور ته و ویل:
زه په کابل کې نوی کور جوړ وم او ګلچین له ځان سره بیایم.
هغه به د کاریګرو، د کور د ودانولو توکو ساتنه و کړي او کوم وخت چې کار پای ته ورسیږي هغه به بیرته را ولم.
خان وویل:
سمه ده لالا!
هر راز چې ستا خوښه وي.

ورځ تېره شوه، د خان وروور د کابل د تګ نیت و کړه، د سهار مانځه نه و روسته، هغه پر ګلچین غږ و کړه او ویې ویل:
تیار یې چې لاړ شو؟
ګلچین وویل:
هو!
د خان وروور له خان او د کلي له نورو مشرانو نه خدای پاماني و کړه او دواړه په نرۍ لاره؛ د قیر سړک پر لور چې د ننګرهار او کابل ولایتونو نښلونکې ده، روان شو.
ګلچین د خان د وروور یوه غوټه کالي چې یوه کوشنی راډیوو هم په کې وه له ځانه سره واخیسته.
د خان وروور سره یوه روسی دوې مېله ښکاري ټوپک (چره یي) و، چې په وطن کې به یې پرې د اېلیو( بتکو یا مرغاوی یو) ښکار کوه.
دوی داوړه یوې منطقي ته و رسیدل چې سرخکان نومېده  او د لویې لار قیر سړک هم و، دواړه د سړک غاړې ته د موټر په انتظار شو.
لږ ځنډ و روسته یوه پخوانی ډول بس (سرویس) موټر راغی او د دوی تر خوا و درېد.
د موټر کلینډر ژر له موټر را کوز شو او د خان وروور ته یې ځان و رساو او وې ویل:
مدیر صیب کابل ته ځې؟
د خان وروور وویل:
هو!
مګر زما سره دا کس هم دی.
کلینډر وویل:
تاسو ته دا د مخې سیټ تشوم، مګر د دې تن له پاره به د لارو (ځغاستی) په منځ کې هغه د غنمو بوری کېږدم او هغه به پرې کېښني.

د خان ورور کوښښ و کړه؛ که کوم سیټ ګلچین ته هم پیدا شي
مګر موټر نور ځای نه درلود، ځکه چې موټر له ننګرهاره مخ په
کابل حرکت کوه او په دې منطقه کې ( منځ د لار کې ) به د موټر
د خالي څوکی امکان خورا لږ و.
ګلچین وویل:
ستونزه نه شته!
زه پر بوری کېښنم.
کلیندر وویل:
اله!؛ ژرکړه لار ډېره ده.
ګلچین پر بوری کېښناست او موټروان حرکت و کړه.
وروسته له درې ساعتونو نه هغوی کابل ته ورسیدل.
موټر تم ځای ته دننه شو او خلکو ته یې وویل:
تاسو کولی شئ له موټر څخه کوز شئ.
د هغه تم ځاي نوم پل محمود خان و؛
د خان ورور تکسي موټر له پل محمود خان څخه تر اقاعلی شمس
پورې و نیوو.
کله چې اقاعلی شمس تم ځاي ته ورسیدل د خان ورور ګلچین ته
وویل:
راځه چی له موټر ښکته شو او نور په پښو لاړ شو.
ګلچین وویل:
سمه ده!
د خان ورور وویل:
اوس نږ دې شو.
ګلچین وویل:
څومره لرې ځای وو؟
ګلچین بیا و پوښتل:
د دې ځای خلک په کومه ژبه خبرې کوي؟
د خان ورور و ویل:

د دې ځای خلک په دري (درى) ژبه خبرې کوي.
ګلچين و ويل:
دوی په پښتو ژبه پوهيږي؟
د خان ورور وويل:
نه لږ، لږ!
دوی په پښتو خبرې دومره نه شي کولی او نه هم پرې ښې بشپړ پوهيږي.
ګلچين بيا و پوښتل:
د لته پښتانه هم ژوند کوي؟
د خان ورور وويل:
هو!
زموږ د کور د شا ګاونډی پښتون او زموږ د ولسوالی دی.
د هغوی سره کولی شي په پښتو ژبه خبرې و کړي.
دواړه په کوڅو کې روان وو.
د خان ورور پر ګلچين غږ و کړه:
ګوره!
دا د کابل سيند دی، دې سېمې ته موسهي چهاردهي وايي.
لار سره ځان بلد کړه.
ګلچين وويل:
سمه ده!
بيا وړاندې لاړل،
يوه ډيو ډيوک (سراچې، سرپټې لار) ته ورسيدل.
د خان ورور پرې غږ و کړه:
ګلچينه!
دا لومړی ډيو ډيوک دی
په ياد و ساته
ګلچين وويل:
سمه ده!

دوی لارې ته دوام ور کړه
بیا د خان ورور وویل:
ګلچینه!
دغه سېمه سرماجتک نومېږي؛
ګوره دا دوپیم ډیو ډیوک دی، چې د آدم خان په ډیو ډیوک مشهوردی.
ګلچین وویل:
سمه ده!
بیا لږ وړاندې لاړل .
د خان ورور وویل:
دا دی را ورسیدو.
دغه زما ځمکه ده؛ چې په کې کور جوړوم.
تر شا یې جوړ شوی کور زموږ د همسایه دی؛
هغه پښتانه او د لغمان د پرمانخیلو کلي نه راغلي دي
او مخ ته یې د ډېر نومیالي سړي (فرقه مشر) کلا ده.
کلا لوړ، لوړ او د پخسې برجونه هم لري. د کلا په دروازه کې یې دوې عسکر هم شته، هغه خدمتګار (نفر خدمت) هم لري.
بیا د کار سیمې ته ورغلل.
کاریګر په دندو بوخت وو؛
مشر ختګر دوی ته ستړي مه شي و ویل، دوی ورته خیر اوسې وویل.
بیا د خان ورور ګلچین هغوی ته ور و پیژاند او زیاته یې کړه چې دا زما اعتمادي کس دی، دې به تاسو ته سودا راوړې او په هر کار کې له ده سره مشوره کوئ، مګر دا په کابل کې بلد نه دی او نه هم په دری ژبه پوهیږي، نو هېله کوم چې په دې هکله له ګلچین سره مرسته وکړئ.
هغوی ومنله
او ویې ویل:

سمه ده مدیر صیب!
بیا لږ وروسته د ختګرو مشر دوی ته چای راوړ او وې ویل:
چای وڅښئ چې له لرې نه راغلي یاست.
دوی پر تغر کېښناستل او چای یې په خورا خوند وڅښه.
بیا د خان ورور د ختګرو له مشر نه و پوښتل:
د ګلچین له پاره بستره لرې او که یې زه له کوره را وړم؟
هغه وویل:
هو!
نالی (توشکه) او بالښت شته
هوا توده او بړستن ته اوس اړتیا نه شته.
ګلچین یوه څادر هم لري چې له هغه نه به کار واخلي.
د خان ورور و ویل:
ښه نو زه کور ته ځم چې بیا د موټرو د مېندلو ستونزه هم وي.
ټولو وویل:
سمه ده صیبه!
د خان ورور خدای پا مانې واخیسته او ټوپک یې اوږې ته وا چاوه او غوټه یې ګلچین ته ورکړه او ویې ویل:
زه کله نا کله راځم په غوټه کې شین چای، وطني ګوړه او زما جامې او کوشنی رادیو هم شته، د چای او ګوړې نه به په ګډه کار واخلو، ګیلاسونه، چای جوش، نور د پخلي لوښي دلته لرو او ما پخوا له کوره راوړې دي.
ګلچین وویل:
سمه ده صیبه!
بیا نو د خان ورور مخ په کور روان شو.
د خان ورور به د اديني (جمعې) په ورځ را ته. د کار لیدنه به یې کوله، همدا راز د کاریګرو تنخوا او د خوراکي توکو پیسې به یې هم ګلچین ته ورکولې.

وخت تېر شو او ژمی هم را نږدې شو، د کور دندې مخ په خلاصیدو شوې.
د خان ورور د ختېګرو مشر ته وویل:
د کور حالت څنګه دی؟
هغه وویل:
کور دې چمتو شوی دی، چې فامېل ورته راشي او نوی ژوند پیل کړي.
د ختېګرو مشر زياته کړه:
هو!
ادېني په ورځ چې راغلی، زه به درته کیلی و سپارم.
د ختېګرو مشر و پوښتل:
ګلچین به بېرته وطن ته لیږې؟
د خان ورور چې د ګلچین صداقت یې لیدلی و په سوچ کې شو،
د ختېګرو مشر خپله پوښتنه بیا ځلې (تکرارې) و کړه،
سوچ يې کاوه چې د خان ورور د ده خبره نه ده اورېدلې.
د خان ورور وویل:
نه!
ګلچین به هم په کابل کې له ما سره پاتې شي،
ګلچین ډېر خوشحاله شو او وې ويل:
زه به دلته څه کار کوم؟
د خان ورور وویل:
له ځاه نه اوبه را ویستل، د حویلی ګلانو او ونو ته اوبه ورکول، کوشنیان تر مکتب پوری بولو، د کور سودا اخیستل، پیړی داش یا نانوایي ته وړل او په ژمي کې لرګی ماتول به ستا کار وي.

همدا راز تاته کالي، درې وخته ډوډی او یوه اندازه تنخا هم در کوم چې نوره اړتیا دې پرې پوره کړې.
ګلچین خورا خوشحاله او د خان د ورور نه یې مننه و کړه.

بیا د خان ورور سوچ و کړه چې دی به چېرته و وسیږي؟
هغه د ختېګرو مشر سره مشوره و کړه؛
د ختېګرو مشر ورته وویل:
د انګړ په ختیځه خوا کې که یوه کوټه ورته جوړه کړې ښه به وي ، هغه ځای د انګړ دروازې ته هم نږدې دی. هم که چېرته بېګانه او د کلي نارینه مېلمانه راتلل، هلته به ویده کیږي.
د خان ورور وویل:
سمه ده!
خو!
د ختېګرو مشر وویل:
مونږ یوه څه د ودانولو توکي لرو، یوازې د پو ښښ له پاره دستک لرګی او تختې په کار دي.
په دې وخت کې ترکانړ غږ کړ:
مدیرصیب!
د دروازې او کړکۍ لرګي هم لرو، زه به یې له اوجورې پر ته جوړې کړم، ځکه باید یوه څو ورځې نور هم کابل کې پاتې او بیا به له تا سره یوه ځای وطن ته لاړ شم.
همدا راز کې دی شي چې کوم وخت کابل ته د کار له پاره راشم شپه به په همدې کوټه کې تېره کړم.
د خان ورور وخندل او ویې ویل:
سمه ده!
دا به ډېر ښه کار و شي
هغه د ختېګرو مشر ته وویل:
الله!
کار پیل کړه،
د خان ورور و پوښتل:
تر بلې ادېنې به کوټه خلاصه شي؟
د ختېګرو مشر وویل:

هو!
توکل په خدای!
د خان ورور خدای پاماني واخیسته او کور ته لاړ.
دی د ادېنې ورسته راغی چې ګورې د کور تولې دندې بشپړې شوي دي.
د خان ورور د ختګرو د مشر نه مننه و کړه.
بیا یې ګلچین ته وویل:
راشه خپله کوټه و ګوره!
ګلچین خپله کوټه ولیده او ډېر خوشحاله شو.
بیا یې د کور کیلي ګلچین ته و سپارلې او وې ویل:
ته به همدلته اوسیږې، زه به بلې ادېنې ته دلته کډه را وړم او ته به دې خپل کار هم پیل کړې.
ګلچین خوشحاله شو او وې ویل:
ډېره، ډېره مننه!
دوی ادېنې وروسته د خان مشر اوبل ورور یې کډې راوړې، هغوی په خپل کور کې ځای پر ځای شو او ډېر خوشحاله ژوند یې پیل کړه.
هغه کوټه د ګلچین په نوم شوه، تر سړکال هم پایښت لري (موجوده ده) او د ګلچین په کوټې یا دیرې.
وختونه تېرېدل او د خان ماشومان هم په لویو دو شو.
بیا خان پریکړه و کړه چې د الکانو له پاره بله لویه کوټه جوړه کړې، هم به الکان په کې درس و وایي او هم به کوم نږدې نارینه مېلمه په کې وخت تېر کړي.
نو هغه بیا یوه لویه کوټه، یوه دالان، د بام له پاره لار، د اودسه له پاره ځای او یوه پخلنځی یې هم جوړه کړه.
د ګلچین کوټه هماغسې د ګلچین له پاره پاتې شوه.

***

د ګلچين مشر ورور(مجنون) په لغمان کې و، هغه به کله يوه دنده او کله به يې بله دنده مخ ته وړه.
مجنون چې تر ګلچين ډېر ډنګر او کمزورى و، درووند کار يې نه شو کولى، هغه به اسانه دندې کولې لکه:
د غنمو، شولو غوبل، داسي نورې دندې به يې کولې.
کله به يې چرګان په ارزانه اخيستل بيا به يې په لړ ګټې پلورل.
هغه به د وطنيو هګيو کار او بار هم کوه.
مجنون به په دوبي کې کابل ته راته او څو اونۍ به يې له ګلچين سره هم تېرولې.
دواړه ورونه يوه ګړي (مجردان) وو، کله نا کله به يې خپل ماما ګانو سره لانجې هم کولې، مګر تر پايه و نه توانېدل چې خپل حق ترې وا خلي.

****

يوه ورځ چا ګلچين ته دوکه ور کړه او ورته يې وويل:
ستا خان تاته تنخا لږه در کوي، راځه زه به درته ډېره تنخا درکړم او هم به درته ښځه پيدا کړم.
کور به دې ودان شي او هم به د ماشومانو خاوند شې.
ګلچين چې ډېر صادق سړی و، سوچ يې و کړه چې دا کس رښتيا وايي، نو تصميم يې و نيوه چې سبا به دا موضوع د خان ورور ته وايې، که يې و منله ښه او که يې ونه منله، کور به پرېږدي او له هغه نوي کس سره به مزدوري شروع کړي.
سهار وختې چې د خان ورور له مسجده راغی، ګلچين ور نږدې شو او وې ويل:
زه غواړم چې تنخا مې زياته شي، پيسې ټولې او ښځه پرې و کړم.
د خان ورور ورته وويل:
زما په پام کې يې، زه ستا د نظر سره موافق يم، لږ بايد صبر و کړې.

ګلچین وویل:
صبر خو ګران دی، یوه بل څوک سر له ننه، ماته تر ستا دوې برابره تنخا او نور ډېر امتیازونه را کوي.
د خان ورور و ویل:
دا!!؟ د کابل اوښیار خلک دي، کې دی شي در سره یې ټوکې کړې وي، زه په ښاري خلکو کې صداقت لږ وینم.
ګلچین وویل:
نه!
هغه کس درواغ نه وایي او خپله خبره عملي کوي.
د خان ورور وویل:
ګوره پښېمانه به شې؛
ګلچین وویل:
نه!
هېڅکله نه پښېمانه کېږم.
ګلچین زیاته کړه!
که دې خوښه وي سهار خپله بستره اخلم او نوې بادار کور ته ځم.
د خان ورور و ویل:
دا دې خپل کور دی، هر کله چې و غواړې په پخوانی تنخا بېرته راتلی شې.سهار شو،ګلچین خپله بستره په شا او له کوره و وت.
د خان ښځه او نورو ماشومانو چې له د سره یې عادت اخیستی و ډېر خپه شول، څکه ماشومانو د ته، ګلچین ماما ویل.
ګلچین د نوي بادار کور ته لاړ او ور یې و ټکوه، د کور خاوند را و وت او په بده لهجه یې وویل:
دا و خت د راتګ و؟
لږ خو به دې صبر کړی و چې لمر ختلی وی، ماشومان دې له خوبه را ویښ کړل.
ګلچین وویل:
تا سو و ویل، چې وختي راشه، دا ده زه هم وختي راغلم.

د کور خاوند ګلچین ته وویل:
راشه دغه د لوی ور تر څنګ چې پخوا د تناره خونه او توره تیاره ور، ور و ښوده او وې ویل:
خپله بستره دې دننه وې سه، دا ستا کوټه شوه؛
د نوي کور خاوند به ورځ په ورځ پر ګلچین، کار ور ډېر و، د ماشومانو غلې کول او د باندی وښتل یې هم ور په غاړه کړل.
ګلچین ډېر پښېمانه ښکارېده، ولې بله لاره یې نه درلوده، ځکه خپله یې پر ځان کړې و.
میاشت په سختې تېره شو، ګلچین خپل نوي خان ته د تنخا غوښتنه و کړه، د کور خاوند په قهر شو او وې ویل:
ځومره وړی سړی یې!
تر اوسه د نوې میاشت نه یوه اونۍ تېره شوې ده او ته تنخا یاد وې.د کور خاوند وویل:
ته پوهېږې چې ستا تنخا هماغه اندازه ده چې د خان ورور در کوله، په دې قیمتي کې زه نه شم کولی تا ته ډېره تنخا درکړم.
ګلچین خفه شو او څه یې ونه ویل.
سبا ګلچین د ډوډۍ پخولو داش پر لور روان شو چې د خان د ورور پیږی به یې هلته د ډوډۍ پخولو له پاره وړلې.
ګلچین داش ته ورسید او داشوان ته یې سلام وا چو، داشوان سلام ته یې وعلیکم وویل او ورنه یې پوښتنه و کړه:
چېرې ورک یې؟
څو ورځې کېږي چې د خان د ورور پیږی نه راوړې؟
ایا هغوی چېرته تللي دي؟
ګلچین وویل:
نه!
له ما نه یوه غلتې و شوه او ما د خان د ورور کار پرېښود.
داشوان په دې خبره ډېر خپه شو او ویې ویل:
تا ډېر بد کار کړی دی،

ګوره!
ته د دوی په ډوډۍ لوی شوی یې، ته الته لکه د کور خاوند وې.
ماشومانو درته ماما ویل او ټولو درته په ښه سترګه کتل.
ګلچین د خپلې تېروتنې کیسه په لنډه توګه داشوان ته تېره کړه،
داشوان خورا خفه شو.
ګلچین داشوان ته وویل:
ماته په داش کې کوم کار را کړه،
داشوان وویل:
دلته خو کوم کاریګر ته اړتیا نه لرم، مګر زما کاریګر، کوم چې
د داش له پاره کاغذونه او وچوکې راغونډ وي، په هغه زه ډوډۍ
پخوم، ډېر تمبل او بیکاره دی، نو که غواړې دا کار به تاته و
سپارم.
ګلچین وویل:
د کار دنده یوازې  کاغذونه وچکې راټولول دي؟
داشوان وویل:
نه!
سهار به داش تود وې، بیا به اوبه راوړې، وروسته به چای دم
وې (پخوی)  چې ټول یې باید وڅښو، بیا به په ډېرانو ګرځې،
مخکې له غرمې به درې بورۍ کاغذونه او وچکې راټولوې؛ بیا
به اوبه راوړې؛! د غرمې ډوډۍ به پخوې؛! و روسته له مانځه به
بیا داش تود وې؛! خپل کار ته به دوام ورکوې او بیا به په ډېرانو
ګرځې.
بیا ګلچین و پوښتل:
تنخا خو به مې لږه نه وي؟
داشوان وویل:
کومه تنخا؟
دا کار د تنخا وړ دی؟
دا خو د خان د ورور کور نه دی،

دلته د نس مزدوري ده، که خوشحاله يې سر له سبا راشه او دنده دې پيل کړه، که نه نو مخې ته دې ښه.
گلچين چې ډېر مجبور و، بله لاره يې نه درلوده، دا کار يې و مانه او د نوي کور خاوند خوا ته روان شو.
کله چې د کور خاوند هغه يې ولید، پر هغه ډېر په غصه شو او و ې ويل: تر اوسه چېرته ورک وې؟
اله! کارونه دې خلاص او سر له سبا ځان ته بل ځای کار پيدا کړه.گلچين ډېر خواشينی شو او له ځانه سره يې وويل:
لکه چې د ځکک نه ناوې ته کېښناستم، مگر خپل مورال يې له لاسه ور نه کړه.
سهار وختي يې خپله بستره په شا او د کور نه و وت.
گلچين داش ته لاړ او خپله نوې دنده يې پيل کړه.
گلچين يوه اونی وروسته د نوي کور خاوند ته ورغی، چې خپله تنخا ورنه واخلي، مگر هغه به بهانې کولې او ماشومانوته بی ور زده کوه "چې پلارمې په سفر تللی دی" هر کله چې راشي ستا تنخا به در کړي.
گلچين پو شو چې هغه ور سره دوکه کوي، نه غواړې چې ورته تنخا هم ور کړي، د هغه موخه دا وه چې گلچين د خان د ورور له مزدو ري وباسې، ترڅو خپل کس په هغه کور کې ځای پر ځای او يا وگماري.
گلچين به هره ورځ په ډېرانو گرځیده، لویه بوری به يې تل پر شا ښکارېده، په لاس کې به يې جاړو او د سیخو کوشنی شاخی وه.
لاسونه او مخ يې تور شوي و، دود وهلی و، جامې يې هم خیرنې وې او څو ځايه پیوند شوې هم وې.
کله به د ماښام له خوا سپيانو هم پسې اخیستی و، هغه به چغه! چغه! ويل او ځان يې ترې ساته.
د گلچين روزگار ورځ په ورځ مخ په ورانېدو و.
داشوان به هم ور باندې په غصه کې د او ویل به يې:

نن دې کاغذونه خورا لږ راټول کړي دي، که داسې و کړې زه مجبور یم بل څوک پیدا کړم.
ګلچین وویل:
په ډېرانو کې کاغذونه خورا کم شوې، خلک هم نه غواړي کاغذونه، وچکي ډېرانوته واچوي، ځيني خلک يې په کورونو کې په بخاریو کې ترې کار اخلي،
ځکه هوا سړه او ژمی دی.
داشوان وویل:
زما يې پرې څه؟
خپله دنده دې تر سره کوه،
زه نه شم کولی په تاوان کار و کړم.
ډوډۍ خواره هرې خوا ډېر دي.
که نه نو، ته هم کولی شي ځان ته چېرې نوې دنده پیدا کړې.
ګلچین خورا خواشینی شو.
په سترګو کې يې اوښکې و څرخې دې؛
ژر يې له جیبه دود وهلی دستمال را و ویست او خپلې اوښکې يې پرې پاکې کړې.د شپې خوب يې و نه کړه او ټوله شپه به يې له ځانه سره ویل:
اوس به چېر ته لاړ شم؟
بیا به څه دنده او چیرته مخ ته وې سم؟
د سهار د مانځه وخت نږدې شو، خو په دې وخت کې پر هغه خوب راغی او ویده شو، په خوب کې د خان ورور ورته وایي:
مه خپه کیږه؛!!!
ته بېر ته راشه؛!!!
په دې وخت کې داشوان پرې غږ و کړه:
الهٔ!؟ پاسه!
داش روښانه، بیا مونځ و کړه؛
ګلچين خوشحاله شو او پس له مانځه يې داش وان ته و ویل:

ښه!
نن ځم چې چېرته نوې دنده پیدا کړم.
داشوان وویل:
نن له ما سره ستا ډوډی نه شته.
ګلچین و ویل:
خدای مهربانه دی.
هغه د خان د ورور کور ته روان شو.
د کور دروازه تړلی وه، هغه دروازې ته ورنږدې شو او وې غوښتل چې ور و ټکوې،
بیا له شرمه له ور نه وروسته شو او هغه وخت یې پر یاد راغی چې د خان د ورور  نه د لوږې تنخا په موخه یې له کوره وتلی و.ګلچین بله چاره، لار نه درلو ده، هغه وېرېده چې اوس د خان د ورور نه کوم چلونی (منفي) ځواب تر لاسه نه کړي، نو بیا به څه کوي.
په هره توګه دروازې ته نږدې شو.
د دروازې د اوسپنې کړی چې پخوا یې هم به له باندې خوا وهله ، وټکوله او په خپله تر دروازې لږ شاته و دریږد.
څو ثانې وروسته ماشومان دروازې ته راغلل، دروازه یې خلاصه کړه، ګورې چې ګلچین دی.
ماشومانو کورته منډې کړې او غږ یې و کړه:
ګلچین دی!
ګلچین ماما راغلی!
د خان ورور دندې ته تللی و، مګر مېرمن یې په کور کې وه.
هغه له ماشومانو سره یوه ځای دروازې ته لاړه، دروازه یې خلاصه کړه، چې ګورې په ربښتیا هم ګلچین و.
ګلچین په ژړا شو او د خان د ورور ښځې ته یې وویل چې ما ډېر بد کړې دي،
ما وبخښئ!

هغې وویل:
کومه خبره نه شته، ته په خپله لاړې.
بیا یې ګلچین ته وویل:
کور ته دننه او دروازه و تړه.
ګلچین د دروازې خوا ته دننه کېښناست.
بیا د خان ښځې ترې و پوښتل:
دا لاسونه دې ولې تور دي؟
پښې دې څومره تورې او چودلې دي؟
دا کالي دې په څه حال دي؟
بیا یې ګلچین ته وویل:
د برنډې لوښي کې اوبه تودې دي،
الله!!!؟
لومړی دې مخ او لاس، بیا وروسته دې پښې او بیا دې کالي بدل کړه.
ګلچین وویل:
ما ته بېر ته خپلې کوټې کې ځای را کوئ؟
هغې و ویل:
ته خو زما ورور یې او ما درته ورور ویلې دي.
کومه ستونزه نه شته!
خو بیا به داسې کار نه کوې.
ګلچین وویل:
سمه ده، زه لومړی ځم چې خپله بستره را وړم.
هغې وویل:
سمه ده!
ژر لاړ شه!
ګلچین لاړ؛ خپله بستره او کالي یې را وړل.
لومړی یې مخ او لاس، بیا وروسته خپلې پښې، بیا و روسته یې کالي بدل او و وینځل.

د حویلۍ په رسۍ (تناب) کې یې اوار کړل.
دا وخت غرمه شوې وه.
د خان ښځې غږ کړ:
اله!! الکانو!
ګلچین ته د غرمې ډوډۍ د هغه کوټې ته وې سئ.
الکانو ډوډۍ ورته وېوړه، هغه په مزه، مزه ډوډۍ د ترکارۍ سره هم و خوړه.
بیا وروسته الکانو ورته شین چای سره د ګوړې راوړه.
ګلچین وویل:
خدایه! شکر.
خپل کور- خپل ګور
مازیګر شو، د خان ورور له دندې راغی، ماشومانو هغه ته په دروازه کې وویل چې:
ګلچین پیدا شوی او بېرته راغلی دی.
هغه وویل چېرته دی؟
ماشومانو ورته وویل:
خپلې کوټې کې دی.
هغه کوټې خوا ته روان شو او دروازه یې ور ټکټک کړه.
ګلچین له ځایه را پاسېد او د خان د ورور لاسونه یې چپ کړه.
ډېره، ډېره بخښنه یې ورنه و غوښته.
د خان ورور ورته وویل:
ما خو درته ویلې و.
ګلچین و ویل:
اوس پوی شوم.
د خان ورور و ویل:
د پخوا په شان خپلې دندې ته دوام ور کړه او د چا په خبرو په سې مه ګرځه؛
ګلچین وویل:

سمه ده!
بیا د خان ورور خپلې کوټې ته لاړ.
وخت تېرېده، شپه سبا او سبا شپه کې د.
څو کاله وروسته د خان ورور د زړه د ناروغۍ له امله د دې دنیا نه سترګې پټې کړې او په نږدې سیمه کې خاورو ته و سپارل شو.
انا لله و انا الیه راجعون
ګلچین په ډېره خوشحالۍ د خان د ورور په کور کې اوسیده، د خان فامېل کوښښ کوه چې ګلچین ته یوه ښځه پیدا او کور یې هم ودان کړي.

*****

یوه ورځ د خان د ورور مشره لور، چهلستون د موټرو تم ځای کې ولاړه وه چې کور ته لاړه شي، په دې پېر (وخت) کې یوې جلۍ ترې پوښتنه و کړه:
خورې!!؛ د چهلستون موټر د کوم ځای نه ځي؟
هغې و ویل:
له هم دې ځای څخه.
بیا یې و پوښتل:
څه رنګه یې توپیر کیږي؟
د خان د ورور مشرې لور و پوښتل:
ته د موټرو دړې (لوحې) نه شې لوستلی؟
جلۍ وویل:
نه!
زه زده کړې نه لرم.
د خان د ورور لور ترې پوښتنه و کړه:
نوم دې څه دی؟
هغې و ویل:
شا کوکو!
د خان د ورور لور بیا و پوښتل:

واده دې کړی دی؟
جلی وویل:
نه!
له ما سره څوک واده کوي؟
هم بدرنګه يم، هم مې عمر لوړ دی، تر ټولو غوره چې په دې پیړی کې بې تعلیمه (سواده) یم.
بیا د خان  د وروور لور و ویل:
که زه دې خپل ماما ته و غواړم څنګه؟
واده ور سره کوې؟
هغه په خندا شوه او وې ویل:
څه چې نصیب وي؛
د خان د وروور لور فکر کوه چې ټوکې کوي، په هر صورت یې ترې و پوښتل:
کور دې چېرته دی؟
جلی وویل:
د کلا غیبي د جومات په کوڅه کې، مخ په کابل سیند.
د خان د وروور لور ترې و پوښتل:
کور مو خپل دی؟
هغی وویل:
نه!
کرایي دی.
بیا د خان د وروور لور ور نه و پوښتل:
د کور او کوڅی شمېره مو څو ده؟
هغې و ویل :
نه پوهیږم!
لږ وروسته د چهلستون ملي بس راغی، د خان د وروور لور هغې ته د موټر لارښونه و کړه او خپله هم موټر ته پور ته شوه.

د خان لور په خپل تم ځای کې له موټر کښته او کور ته روانه شوه. په زړه کې یې و ویل:
کاشکې هغه لړ پوهه (با سواده) په لیک او لوست پوهیده چې ټول پته مې ورنه اخیستې وی.
بیا یې و ویل:
البته نصیب به یې نه و.
هغه کور ته و رسیده او په همدې سوچ کې وه.
کور ته ور ننه شوه او و روسته له لږ ځند نه یې کښه، خپلې مور، خویندو او ورونو ته و کړه، هغوی و ویل:
ښه چانس و، خو له لاسه لاړ.
کې دی شي زموږ د ماما نصیب نه و،
او یا هغې ټوکې کړي وي.
د خان د ورور ښځې دا کښه ګلچین ته و کړه، هغه موسکی (خندنی) شو او په زړه کې یې و ویل:
کاشکې و شي.
د خان د ورور لور ټوله شپه د هغې جلۍ په سوچ کې وه، پښیمانه وه، چې ولې یې تر کوره ور سره ولاړه نه او کور خوبه یې لیدلی و. شپه سبا شوه مګر هغه په سوچ کې وه، خوب یې له سترګو وتلی و، لمر را وخوت او هوا هم یوه څه توده شوه، زړه نا زړه یې خپلې مور ته و ویل:
مورې اجازه را کړه چې د هغې جلۍ کور ته لاړه شم، ګوندې که پیدا یې کړم.
مور یې و خندل او وې ویل:
نا څرګنده پته (ادرس) په کابل ښار کې چې نه کوڅه، نه د کور شمیره، نه هم د هغوی شخصي کور او نه هم د پلار نوم دې یاد وي؟
هغې وویل:
توکل په خدای!

و ګورم چي څه کيږي؛
مور يې و منله او وې ويل ژر بېرته راشه،
هغې و ويل:
سمه ده!
د خان د ورور لور د سهار چای او ډوډۍ و خوړه او بيا روانه شوه، هغه خپل تم ځای ته لاړه، لږ ورسته ملي بس راغی، موټر ته پورته شوه او د کلاغيبي تم ځای کي له موټره ښکته شوه.
د کلاغيبي جامع جومات کوڅي ته ددننه شوه او مخ پر سيند يې حرکت و کړه.
دعاګاني به يې کولې چي ګوندې په مخه را شي،
کې دی شي سودا په سې تللې وي، مګر د هغې څرک نه لګيده.
دې به له ماشومانو نه د هغې د نوم پوښتنه کوله، مګر ماشومانو هغه نه پيژندله، ځکه چي مشره جلۍ وه.
هغه نا هيلې شوه، بېر ته د تم ځای پر لور روانه شوه، يوه ځل يې په زړه کې تېر شو چي د يوه څو کورونو دروازې و ټکوي او کې دی شي مشران يې و پيژني.
هغه يوه کور ته چې د ختو و، ور نږدې شوه او ور يې و ټکاو.
دا لمړی کور و چې هغې له دې ځای نه پيل کړه.
څوک معلوم نه شو، بيا يې ور و ټککو او لږ لرې له ور و درېده چي نارينه نه اوسي.
ور خلاص، د ښځي غږ شو او وې پوښتل:
څوک يې؟
د خان د ورور لور ته غږ آشنا تر غوږو شو او وې ويل:
دا د شا کوکو کور دی؟
هغی وويل:
هو!
تاسو څوک يئ او څوک مو په کار دی؟
د خان د ورور لور وويل:

ته خو به په خپله شا کوکو نه يې؟
هغې سر له وره را وېست او وې خندل،
زه په خپله يم او تاسو؟
هغې وويل:
زه هماغه جلی يم چې پرون تا له ما نه د چهلستون د موټرو پوښتنه و کړه.
بيا د خان د ورور لور و ويل:
مېلمه مو په کار دی؟
هغې و ويل:
هو!
ولې نه!
را دننه شه؛
د خان د ورور لور د شا کوکو د ليدو نه ډېره خوشحاله شوه.
هغې هم د خان د ورور لور په غېږ کې و نيوله، همدا راز ډېره خوشحاله شوه او د شا کوکو خوله له خندا نه، نه ټولېده.
شا کوکو د خان د ورور لور يې تر لاسه و نيوله او د بلی (صوفی) خوا ته يې لاربښونه و کړه، دوی بلی ته و رسيدل، د کور نور و ګړي را ټول شول او له شا کوکو يې و پوښتل:
دا څوک ده؟
شا کوکو د هغې ورځ کېسه، چې هم په کور کې کړی وه، له نورو سره ور و پيژندله، سم دستي يې چای را وړه او د خان د ورور لور نه يې مېلمه پالنه و کړه.
بيا نورو د خان د ورور لور نه د هغه د ماما په هکله معلومات و غوښتل؛
د خان د ورور لور هغوی ته ټولې کيسې و کړې او زيا ته يې کړه چې نن خو يوازې او بله ورځ به نارينه هم له ځانه سره را ولي.
بيا د خان د ورور لور و ويل:

خوښه مو ځنګه ده؟
هغوی و ویل:
تاسو چې ښه خلک یاست، نو ستاسو ماما هم ښه سړی دی، تا سو راشئ کار به و شي.
غرمه نږدې وه، هغوی کوښښ و کړ چې د خان د ورور لور غرمه الته تېره کړي، مګر د خان د ورور لور چې ډېره خوشحاله او موخې ته نږدې شوې وه.
په خندا وویل:
نه!
مننه!
اوس کور ته ځم او ستا د کور پیدا کولو کېسه به مور، خویندو، ورونو او ماما ته ووایم؛
هغوی به هم ډېر خوشحاله شي.
مونږ به د بیا راتګ چمتو والی و نیسو،
د کورنی غړو یې وویل:
مونږ به د دستمال چمتو والی؛
بیا ټول په خندا شول.
د خان د ورور لور خدای پاماني وا خیسته او شا کوکو تر لوی ور ور سره و وته او ورته یې و ویل:
کور خو به درځخه نه غلت کیږي.
د خان د ورور (د مشر خان) لور و ویل:
اوس نو نه!
د مشر خان لور کور ته روانه شوه او ډېره خوشحاله ښکارې ده، کله چې کورته دننه شوه پر مور یې سترګې و لګېدې او سلام یې ورواچاوه. مور یې و روسته له علیکم نه و ویل:
نه مې و ویلې، چې په کابل کې د جلی د کور پیدا کول اسان کار نه دی. د مشر خان لور و خندل او وې ویل:
ما خو پیدا کړ!

مور يې و پوښتل:
هسې ټوکې کوې او که رښتيا وايې؟
د خان د ورور لور و ويل:
د لومړي کور په ټک، ټک سره خپله لوی وره ته راغله.
مور يې و ويل:
عجيبه ده!،
بيا يې و پوښتل:
تا ورته د ماما د راپياری څه ياده و کړه؟
هغې و ويل:
هو!
هغوی راضي ښکاري،
بيا تا څه و ويل؟
ما ورته و ويل:
ځو ورځې و روسته موږ له ماما، ورونو او مور سره را ځو.
هغوی وويل:
سمه ده!
موږ به د دستمال چمتو والی و نيسو.
بيا د خان د ورور ښځې موضوع يې ګلچين ته ياده کړه، هغه هم ډېر خوشحاله شو.
درې ورځې و روسته دوی د وعدې سره سم د شا کوکو کور ته د يوې اندازه شيريني او مېوو سره لاړل، د شا کوکو فامېل ډېر خوشحاله او پس له چای نه، دستمال يې را وړه او د خان د ورور ښځې په پتنوس کې يوه اندازه پيسې او شيريني کېښو ده او داوړه لورې ډېر خوشحاله شول.
د خان د ورور ښځې د کوژ دې او واده د مراسمو پوښتنه و کړه، هغوی وويل:
هر راز مو چې خوښه وي، موږ پر تاسو درونډ پېټي نه ږدو هر کله او هر راز چې مو خوښه وي، موږ خوشحاله يو.

دوی له شا کوکو له کور دستمال واخیست او خپل کور ته روان شول.
کوم وخت چې کور ته و رسیدل بیا یې ټیپ را واخیست او ښکلې سندرې یې په کې پیل کړې، د کوځې پېغلې او ښځې هم د ګډون له پاره راغللې.
دا راز به یې دا بدله (نیمکی، سروکی، پام) ویله:

د ستمال یې راوړه - څوندې پرې پورې
پرې بوره مه شي - د ګلچین مورې

درې میاشتې تېرې شوې، ګلچین واده ته چمتو شو.
هغه د خان د ورور ښځې ته ورغی او ورته وې ویل:
د واده امکانات برابر شوي دي، کې دی شي چې د شا کوکو کور ته د پرېکوڼ له پاره لاړ شئ؟
هغې و ویل:
سمه ده!
سبا به زه لاړه شم،
ګلچین و ویل:
سمه ده!
سبا شو، د خان د ورور ښځه د شا کوکو کور ته لاړه او د هغې د کورنۍ سره یې خبرې و کړې.
هغوی ومنله.
د خان د ورور ښځه بېر ته ستنه شوه او ګلچین ته یې و ویل:
د سبا له پاره د موټر بند او بست و کړه، موږ به خاوړو توکي، مېوه او ترکاري. د شا کوکو کور ته و لېږو او بل سبا به د هغوی کور ته لاړ شو. د غرمې ډوډۍ و روسته به ناوې کور ته را وړو.
ته کولی شې خپل ورور (مجنون)، نور دوستان، اندیوالان هم خبر کړې.

ګلچين وويل:
سمه ده!
ګلچين، د خان د ورور ځامن په ګډه سودا وا خيسته، مازيګر يې
د شا کوکو کور ته وې وړه او بېر ته سنا نه شو.
سبا سهار وختي د ګلچين ورور مجنون هم را ورسيد، ډېر
خوشحاله و، هغه د خان د ورور د ښځې نه مننه و کړه چې د
ګلچين له پاره يې زيار او کوښښ کړی دی.
د ورځې لس بجې شوې، ګلچين لوی موټر را وړه، د خان د ورو
ځامن په هغه ګلان بند کړل او ټول د واده خوا ته روان شو.
د غرمې ډوډی نه و روسته، هغوی ناوې را وړه او ګلچين خپل
نوی ژوند پيل کړه.

******

لږ وخت تېر شو، د وطن حالات هم مخ په ورانيدو شو، د ولت به
ورځ په ورځ کمزوری کې ده.
په ۱۳۷۱ ليږدي د غويي مياشتي په اتمه نيټه وا وښت (سقوط يا
له منځه لاړ). دوې مياشتې خلک په ډار او وحشت کې ژوند که
وو. پس له دوې مياشتو، کورنی جګړې پيل شوې او خلک د ځان
ژغورنې له پاره امن ځايو ته او ډېری خلک د هېواده په و تلو پيل
کړه.
هرې خوا راکټونه ورېدل، ګلچين او مېرمن يې هم د ننګرهار
ولايت په لورې حرکت و کړه. په خورا ډار يې يوه څه کالي او
کور د اړتيا وړ لوښي يې له ځانه سره وا خيستل. هغوی و روسته
له رسيدو د مهاجرو يوه کمپ په لور حرکت و کړه او هلته يې
خپل کالي او لوښي کښته کړل او خپل زوړ تغر يې پر ځمکه اوار
کړه. د کور کالي او لوښي يې خوا ته کېښودل او خپلې ښځې ته
يې و ويل:
ته پر تغر کېښنه او زه به د کمپ مسئولو پسې لاړ شم، و ګورم
چې څه کيږي. اوس له جګړې را و وتو، خدای مهربانه دی.

ګلچین د کمپ مسئولو و پسې روان شو او هغه یې و موند او خپل د تیښتې داستان یې ورته لنډ بیان کړه.
د کمپ مسئول و ویل:
پوهیږم!
مور به تا ته د اوس له پاره یوه خیمه او یوه څه د لومړني اړتیا لوښي در کړو، د کمپ مسئول زېرمه ګړي (تحویلدار) ته غږ کړه او وې ویل:
الهٔ! ګلچین ته یوه کېږدۍ (خېمه)، نور د اړتیا لومړني شیان و رکړه او د کمپ کاریګرو ته و وایه چې کېږدۍ ور ته و دروي.
کې دی شي دوی د کېږدۍ په درولو هم پوه نه شي.
ګلچین وویل:
هو!
مونږ هېڅکله کېږدۍ نه ده درولې.
د پنډغالي کاریګرو ګلچین ته کېږدۍ و دروله او ورته یې و ویل:
د پخلي په وخت کې به له کېږدۍ سره خورا احتیاط کوئ چې اور وا نخلي، هڅه و کړئ چې پخلی له کېږدۍ نه لیرې و کړئ!!؟.
ګلچین و ویل:
سمه ده!
مننه کوم چې له موږ سره مو مرسته و کړه، بیا د پنډغالي کاریګر روان شول.
دروند ژوند و، اوبه را وړل، لرګي، خس برابرلو، کالي مېنځل او داسې نور درانه کارونه پیل شول.
ګلچین د درندو دندو سره عادت وو، مګر د هغه ښځې له پاره د کېږدۍ ژوند، دښته، د برېښنا نه شتون او نور خورا ګران وو.
یوه کال تېر شو، ګلچین ته خدای یوه زوی ور کړه، هغوی نوم یې پرې اومید کېښود.
بیا دوې کاله وروسته مجنون په دېرو پوښتنو خپل ورور، ورېندار او وراره و موند.

له هغوی سره به یې څه نا څه مرسته هم کوله.
مجنون مجرد و، هېڅ تن هم ورسره په دې اړه کومه مرسته او لار ښوونه و نه کړه.
یا به یې نصیب همدا و چې د ژوند تر پایه به مجرد پاتې شي.

*******

مجنون یوه ورځ خورا مریض شو او دوستانو یې هغه د ننګرهار لوی روغتون ته و رساوه او بستر یې کړه، چا چې مجنون پېژانده له هغه سره به یې مرسته هم کوله، ګلچین به هم کله نا کله د خپل د مشر ورور پوښتنې ته، ته.
مګر د هغه درملنه په وطن کې امکان نه درلود او هغه هم د باندې د درملنې وس نه درلوده نو ځکه الته و مړ.
جسد یې دوستانو او هغه چې له چا سره کار کاوه په ننګر هار کې خاورو ته و سپاره.

********

ګلچین ته خدای بل زوی هم ور کړه، د هغه نوم یې جمشید کېښود، د پنډغالي سره مرستې لړې او و روسته و درېدې.
ګلچین او فامېل یې مجبور شول چې له پنډغالي و وځي، چېرې ښار کې د غریبی کار له پاره ځای پیدا کړي. هغوی په ښار کې یوه کوشنی کرایي ځای پیدا کړه، ښځې او مېړه به کار که وه او د خپلو ماشومانو روزنه به یې هم کوله، ګلچین چې تر خپلې ښځې مشر و، ژر سپین ږیری شو او د کار وس او توان به یې هره ورځ لږیده او د کمزوری پر لور روان و.
یوه څه وخت تېر شو، هغه ډېر کمزوری شو او له خلکو به یې د مرستې غوښتنه کوله، خلکو به هم ور سره د خپل توان په اندازه مرسته کوله، خورا وخت تېر شو، ګلچین هم ناروغ او بیا و روسته مړ شو.

*********

د ګلچين ښځې به د ماشومانو پالنه کوله او پرهغوی يې ښوونځی و لوست، هغوی ځوانان شول او په بهرنی موسسياتو کې په دندو و ګمارل شول، هغوی بهرنی ژبې هم يادې کړې او له وطنه بهر ته لاړل، هغوی ښځې و کړې او کوشنيان هم لري.
د هغوی د مور په هکله مې دقيق معلومات تر لاسه نه کړل، مګر د ځينو معلوماتو په ستنه د هغوی مور تر اوسه هم ژوندی ده او په ننګرهار کې ژوند کوي.

پای

يادونه:
(۱) لاری موټر

## د چاپ شویو کتابونو لېست

۱- معماری افغانستان
۲- اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش شفاخانه ها)
۳- راهنمود طلائی (برای اساتید انستیتوت های تخنیکی و ساختمانی افغانستان)
۴- رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
۵- رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
۶- اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷- معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸- معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹- افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰ - زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱- صدقه جاریه / دنیای انجینری
۱۲- آموخته های ناب از طراحی تا نظارت (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱) جلد اول
۱۳- داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱۴- فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱۵- نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱۶- پخسه در افغانستان
۱۷- بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا

۱۸- آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۹- منار جام ـ الهامی برای قطب منار
۲۰- آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱- جام یا کلیان ( کلان)
۲۲- معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳- معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲۴- معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵- چېرته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معماری کې)
۲۶- موډرنه جوماتونه " پخوا او نن "
۲۷-هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸- اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش مساجد)
۲۹- اطلاعات ، اصوو و قواعد طراحی در معماری
(بخش مکاتب)
۳۰-هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱- هنر وپیشه حکاکی- زرگری در مرادخانی
۳۲- هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳- معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ: ۱۷میزان ۱۴۰۱/ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳۴- ۴۰- چهل
۳۵- مجنون او ګلچین

**د کار لاندې کتابونو لېست**

۱- در جستجو
۲- تفاوت ها تفاوت می آورد
۳- مستند آموزنده از تصاویر اطفال
۴- سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
۵- لیونی لېوه
۶- بې زده کړې پو
۷- شپنه ادې
۸- بوډا ښکاري
۹- کوشنی سوداګره
۱۰- سپین کارغه
۱۱- سور تنور
۱۲- خړه بیزو
۱۳- بندي مرغه
۱۴- توده بړستن
۱۵- بې وخته باران
۱۶- د ژوند پای

**د امکان او وخت په صورت کې**

۱- پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
۲- تاریخ معماری افغانستان
۳- حویلی های آسمان خراش
۴- ارتباط گذشته، حال و آینده در معماری
۵- استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
۶- شیطان چراغ
۷- خاطره ها

# Majnoon

# &

# Gulcheen

Written by:
PHD Architect
Hashmatullah Atmar
April - May/2023